بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

چهار شنبه ۳۰ تله ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۹ ربیع الآخر ۱۴۴۷ هـ ق | ۲۲ اکتوبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۱۴)

## د بادغیس ولایت مرکز ورزشي سټډیوم کې په یو تن قاتل باندې د الله (جل جلاله) حکم (قصاص) تطبیق شو

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد:

الله تعالی د البقرې سورت په (۱۷۹) آیت کې فرمايلي:

ژباړه: ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی، اې د عقل خاوندانو د دې لپاره چې تاسو تقوا حاصله کړئ.

همدارنګه الله تعالی د الاسراء سورت په (۳۳) آیت کې فرمايي:

ژباړه: او څوك چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې (قصاص) حق ورکړی دی، نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری ونه کړي، له هغه سره به مرسته وشي.

د بادغیس ولایت مرکز ورزشي سټډیوم کې په یو تن قاتل باندې د الله (جل جلاله) حکم (قصاص) تطبیق شو

دغه قاتل چې دوه تنه يې د ټوپک په واسطه په قتل رسولي وو، شهرت يې په لاندې ډول دی:

د قاتل نوم اسمعيل، د ابراهيم زوی، د سيد علي لمسی، د بادغيس ولايت د جوند ولسوالۍ اوسېدونکی، مقتولين (۱:ــ دوست محمد، د نورالدين زوی د دوست محمد لمسی، ۲:ــ ګلبرګه د امير محمد لور، د لعل محمد لمسۍ) د بادغيس ولايت د جوند ولسوالۍ اوسېدونکې يې په قتل رسولي وو.

ياده موضوع د اسلامي امارت د سترې محکمې اړوند درې ګونو محاکمو (ابتدائيې، مرافعې او تميز) لخوا په خورا دقيق او مکرر ډول وڅېړل شوه؛ چې په پايله کې پر قاتل د قصاص حکم صادر او تائيد شو، وروسته دغه حکم د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ هبة الله آخندزاده (حفظه‌الله تعالی) حضور ته د تائيد لپاره وړاندې شو.

د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) لخوا هم د دغې موضوع په اړه د وروستي احتياط په موخه فوق العاده څېړنه وشوه، د مقتول کورنۍ ته د بخښنې او سولې لپاره وړانديز شوی و، د هغوی له نه منلو او انکار وروسته په قاتل باندې د قصاص شرعي حکم د تطبيق امر وکړل شو او د هېواد سترې محکمې ته هدايت وشو، چې دغه د قصاص حکم د پنجشنبې په ورځ (د ۱۴۴۷ هجري قمري کال د ربيع الآخر مياشتې په ۲۳مه) نېټه د بادغيس ولايت د مرکز په ورزشي سټډيوم کې د هېوادوالو په يوه مجموعه کې پر قاتل تطبيق کړي.

د قصاص د ترسره کېدو په موخه د هېواد د قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په هدايت د سترې محکمې د جنوب لوېديځ زون د قضائي مرستيال محترم شيخ نورالله (منير) صاحب په مشرۍ يوه پلاوي چې د جنوب لوېديځ زون د تميز عالي رياست رئيس محترم الحاج مفتي شراف الدين (ياسيني)، د دغه عالي رياست د ديوانونو رئيسانو او مفتيانو يې غړيتوب درلود، بادغيس ولايت ته سفر وکړ.

په دې غونډه کې د بادغيس مرافعه محکمې رئيس محترم شيخ عبدالخالق (امدادالحق)، د هرات د مرافعه محکمې رئيس محترم مولوي علي ګل (حميدي)، د بادغيس د ښاري ابتدائيه محکمې رئيس الحاج مولوي محمد نعيم (عديم)، د بادغيس مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو قضائي او اداري منسوبينو، د هرات والي صاحب، د بادغيس ولايت د يو شمېر رياستونو رئيسانو، علماء کرامو، سپين‌ږيرو او د عامو هېوادوالو ګډون درلود.

د غونډې په پای کې په هېواد کې د سرتاسري امنيت د لا ټينګښت، د خلکو شرعي حقونو ته د لا رسېدو او د اسلامي شريعت د لا ښه تطبيق لپاره دعاء وشوه؛ غونډه د قاتل په وژنه او په دې اړوند د الله تعالی د ستر حکم قصاص په تطبيق پای ته ورسېده.

## د کابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۸۰۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۱۸۴) وثیقې هم اجراکړې دي

د کابل ولايت مرافعه، ښاري ابتدائيه، د وثايقو آمريتونو او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په يوه مياشت کې (له ۱/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې) پورې (۳۸۰۳) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۱۸۴) وثيقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**د جزائي دوسيو په برخه کې:**

د کابل ولايت ټولو محاکمو په يوه مياشت کې (۲۰۷۱) جزائي دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

**د حقوقي دوسيو په برخه کې:**

د کابل ولايت ټولو محاکمو په يوه مياشت کې (۸۱۴) حقوقي دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

**د تجارتي دوسيو په برخه کې:**

د کابل ولايت ټولو محاکمو په يوه مياشت کې (۹۱۸) تجارتي دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

**د وثيقو په برخه کې:**

د کابل ښار د وثيقو او سندونو د ثبت آمريتونو او د ولسواليو ابتدائيه محاکمو په يوه مياشت کې (۳۱۸۴) بېلابېلې وثيقې اجراکړې دي.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۹**

**نېټه: ۱۳/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: پر وخت د ګزارشاتو استول.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د هدايت په اساس ټولو مرافعه محکمو ته خبر ورکول کيږي چې خپل ګزارشونه په خپل وخت د سترې محکمې د پلان او پاليسۍ رياست سره شريک کړي او د تحريراتو د رئيسانو يا آمرينو د اړيکې شميرې ياد رياست ته راواستوي تر څو د اړتيا پر مهال هغوی سره اړيکه ونيول شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۰**

**نېټه: ۱۹/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د تيري اداري د محاکمو د فيصلو د بيا څېړلو کړنلارې د شپږمې مادې د تعديل په اړه.

د ځمکو د غصب څخه د مخنيوي او د غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون محترم مقام لخوا مشرتابه محترم عالي مقام ته د وړانديز په وړاندې کولو سره د تيري اداري د محاکمو د فيصلو د بيا څېړلو کړنلارې د شپږمې مادې د تعديل غوښتنه شوې، په اړه يې مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۲۲۶۱/۸۳۵) مورخ ۱۴۴۷/۴/۴هـ.ق په توسط داسې هدايت کړی: "د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست په يادداشت کې د قضايای امارت د عمومي رئيس نظر او د ياد رياست غوښتنه منظور دي" بناءً ياد حکم او ورسره ياد نظر او غوښتنه د دې متحدالمآل مل د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

**د راشده خلافت په دوره کې قضاء:**

**هغه مهم کارونه چې د ابوبکر ؓ د خلافت په دوره کې ترسره شوي**

**دیارلسمه برخه**

ابو عبيده ؓ يې د ټولو لښکرو مشر وټاکلو او کله به يې چې امير لېږلو؛ نو مخه ښه (خدای پاماني) به يې ورسره کوله او له الله ﷻ څخه به وېره، ښه چلند، په خپل وخت او جماعت سره لمانځه باندې يې ټينګار ورته کاوه او هدايت يې ورته کاوه چې هر يو لومړی خپل ځان اصلاح کړي، تر څو الله ﷻ دده خلک مصلحين وګرځوي، کله چې د دښمن استازی ورته راځي، عزت او اکرام به يې کوي او لږ وخت به ورسره تېروي، ترڅو په داسې حال کې د خپلو عسکرو څخه ووځي، چې د مسلمانانو له حال څخه ناخبره وي.

اخذليک: تتمة النظام، ۶۰ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## سیمینار یک‌روزه برای منسوبین قضائی و اداری محاکم ابتدائیه، دواوین مرافعه و آمریت حقوق ولایت هرات برگزار گردید

طبق هدایت محترم مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت هرات؛ به تاریخ ۱۳ /٤/ ١٤٤٧هـ ق، سیمینار یک‌روزه غرض ارتقاء ظرفیت کارکنان با اشتراک منسوبین قضائی و اداری محاکم ابتدائیه، دواوین مرافعه و آمریت حقوق هرات، در محکمهٔ مرافعه دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط مفتی دین محمد (هروی) رئیس دیوان تجارتی مرافعه آغاز گردید؛ سپس رئیس محکمهٔ مرافعه روی موارد ذیل صحبت نمود گفت:

۱ ـ استقلالیت قضاء را حفظ نمائید، در اجراآت قضائی خویش طرفین دعوی قبل از ابلاغ حکم به چگونگی تصمیم محاکم آگاه نشوند، در ستون تشریحات وثیقه حصر وراثت کلمهٔ اشهد تحریر گردد و کلمهٔ اقرار و اخبار تحریر نشود.

۲ـ به مجرد وصول اوراق دوسیه صلاحیت موضوعی در رابطه به قضایا عاجل تشخیص گردد و بالای اقرار در محاکم دو نفر شاهد گرفته شود.

۳ـ در رابطه به قضایای جزائی طبق متحدالمآل‌ها اجراآت عاجل صورت گیرد، یک نقل کاپی فیصله به محبس مربوطه ارسال گردد.

در ادامه مفتی دین محمد (هروی) رئیس دیوان تجارتی مرافعه و مولوی خداینور (حقانی) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری در رابطه به تنظیم بهتر برای شاملین در مورد اجراآت قضائی، موضوعات مدنی، جزائی و تجارتی و رفع شکایات مراجعین صحبت نمود.

در اخیر مولوی میراحمد (رحمانی) آمر تحریرات محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری در رابطه به رعایت اصول در اجراآت اداری و تنظیم اجراآت در دفاتر اندارج مدنی و جزائی، کتب صادره و وارده، رسیدات، دفتر شهریه و نحوه اجراآت اداری برای منسوبین اداری شاملین در سیمینار صحبت نمود.

سیمینار با دعاء خیر خاتمه یافت.

## د سترې محکمې مرکزي ریاستونو او دېوانونو د رئیسانو، مفتیانو، محررینو او آمرینو لپاره د دعوت او ارشاد ریاست میاشتنۍ غونډه وشوه

د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او دېوانونو د رئیسانو، مفتیانو، محررینو او آمرینو لپاره د سه‌شنبې په ورځ(۱۴۴۷/۴/۲۱هـ ق) نېټه د دعوت او ارشاد ریاست میاشتنۍ غونډه وشوه.

په دې غونډه کې چې د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او دېوانونو رئیس صاحبانو، مفتي صاحبان، محررینو او آمرینو ګډون درلود؛ د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب د قرآنکریم او نبوي احادیثو په رڼا کې د مسؤولیت او امانت اړوند ګټور اصلاحي بیان وکړ.

محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب وویل، د اسلامي امارت ټول مسؤولین له امیر څخه نیولې تر اجیره د الله تعالی او افغان مجاهد او غیور ملت پر وړاندې مسؤول دي، کوم مسؤولیتونه چې راسپارل شوي دا امانت دي؛ د ښه ترسره کولو او په امانت کې د خیانت د مخنیوي په برخه کې باید شپه او ورځ هڅې وکړو.

د سترې محکمې اداري مرستیال ټولو منسوبینو په ځانګړې توګه هغه مسؤولینو ته چې په اداره کې د کسانو د جذب او له دندو د لرې کولو مسؤولیت ورسپارل شوی په اشاره وویل، تاسو مکلف یاست چې په اداره کې نوي کسان د وړتیا، صداقت او ښتینولۍ په اساس وټاکئ؛ که خدای مه کړه دا کار ونه کړئ او د وړ کسانو پر ځای د خپلوۍ، اندېوالۍ یا سپارښتنو په اساس کسان وګماری دا کار هم د خپل ځان، هم د هغه کس چې پر ځای یې نا اهله کس ټاکل شوی، هم د ټاکل شوي کس او هم د ملت په حق کې ظلم دی.

محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب زیاته کړه، د نا اهله کسانو د ټاکلو په صورت کې، د خپل ځان په حق کې دا ظلم دی چې د الله تعالی پر وړاندې مسؤول کېږئ، د هغه وړ شخص په حق کې چې پر ځای یې د واسطې په اساس بل څوک په دنده ټاکل شوی ظلم دادی چې حق یې ضایع کېږي، د نااهله ټاکل شوي کس په حق کې دا ظلم دی چې د ده تر توان لوړ کار ورته سپارل کېږي او د ملت په حق کې دا ظلم دی چې د نا اهله کسانو د ګمارنې له امله یې کارونه له ځنډ او خنډ سره مخ کېږي.

محترم شیخ صاحب اسلامي نظام او په دغه نظام کې دندو ته په اشاره وویل، دا پر موږ د الله (جل جلاله) لوی احسان دی چې د اسلامي نظام په لوی نعمت یې نازولي یو، خو ترڅنګ یې دا هم له یاده مه باسئ چې موږ په ستر امتحان کې هم قرار لرو، که مو په دغه نظام کې راسپارل شوي مسؤولیتونه په ښه ډول ادا کړل بریالي به وو او که خدای مه کړه په دې برخه کې لږ غفلت هم وکړو؛ نو د قیامت په ورځ به الله تعالی حساب راسره کوي او جزا به راکوي.

د سترې محکمې اداري مرستیال له ټولو حاضرینو وغوښتل چې د تل په څېر خپلو مسؤولیتونو ته متوجه شي، ورسپارل شوی امانت په ښه ډول وساتي او په پوره اخلاص او صداقت د هېوادوالو خدمت وکړي.

دغه اصلاحي ناسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د کابل ولایت مرافعه، د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونیو کې (۴۷۱) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت مرافعه محکمې دېوانونو، د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونیو (له ۱ /۴ /۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵ /۴ /۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې د اجراآتو راپور په لاندې ډول دی:

**د مرافعه محکمې دېوانونو اجراآت:**

د کابل ولایت مرافعه محکمې دېوانونو ته په دوو اونیو کې (۱۶۲) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د نشه یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې اجراآت:**

یادې محکمې ته په دوو اونیو کې (۲۲۹) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱) دوسیې په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۱۹۹) دوسیې فیصله شوې، (۴۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د اختصاصي محکمې اجراآت:**

یادې محکمې ته په دوو اونیو کې (۲۵) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیې په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د فراه، جوزجان او دایکندي ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې (۱۴۴۶) عرض‌پاڼو او دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د فراه، جوزجان او دایکندي ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې له (۱ /۳/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۱۴۴۶) عرض‌پاڼو او دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د فراه، جوزجان او دایکندي ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۱۳۸۳) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۵۶) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۴۴۲) عرض‌پاڼې محاکمو ته لیږل شوې، (۲۵) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۵۶۰) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر کار لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**

د فراه، جوزجان او دایکندي ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۶۳) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۲) دوسیې تطبیق شوې، (۵) دوسیې محاکمو ته لیږل شوې، (۶) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوې، (۲۰) دوسیې حفظ شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۶۳۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۹۳) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې د ۱۱/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې څخه ۲۳ /۴ / ۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې (۶۳۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۹۳) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۴۵) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۵۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۷) دوسیې فیصله شوې، (۸۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۷) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۴) دوسیې فیصله شوې، (۱۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۹۳) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د خوست ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۲۸۶) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۸۵) وثیقې یې هم اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۲۸۵) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۸۵) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۸۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۰) دوسیې فیصله شوې، (۲۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۲۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۸) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۸۵) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۳۶) دوسیه، به تعداد (۱۹۱) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۴/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۶/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۵) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۹۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۰۷) دوسیه، به تعداد (۱۵۰) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصه اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه و ولسوالی ها از تاریخ ۴/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۶/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۵) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۴) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۶) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت‌کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۵۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۰۳) دوسیه، به تعداد (۳۶۷) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۲) دوسیه فیصله شده، (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۴۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۶۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۱) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت‌کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۳۶۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۳۵۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۴۱) وثیقې هم اجرا کړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه، وثایقو، ښاري او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۳۵۹) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۴۱) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقی برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۳۳) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۹) دوسیې فیصله شوې، (۱۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۸۹) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۱) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۰) دوسیې فیصله شوې، (۲۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۸۲) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۷) دوسیې فیصله شوې، (۲۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۴۱) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت کندز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۷۰) دوسیه، به تعداد (۲۳۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۹۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۲۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۶) دوسیه فیصله شده، (۳۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۰۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۰) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کندز به تعداد (۲۳۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده‌است.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۴۲) دوسیه، به تعداد (۱۷۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۸۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۷) دوسیه فیصله شده، (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۳) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۱۷۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده‌است.

## محاکم ولایت جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۵۱) دوسیه، به تعداد (۲۶۶) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، نظامی، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۴) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۸) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۲۶۶) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## په زابل ولایت کې یوه مجرم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د زابل ولایت شاه جوی ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د با څانګې د پرېکړې له مخې یو کس ته د نامشروع اړیکو په جرم، د دوشنبې په ورځ (۲۰/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

د شاه جوی ولسوالۍ ابتدائیه محکمې دغه مجرم پر دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته د شاه جوی ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د الف او با څانګو او نورو امارتي ادارو ګڼ شمېر مسؤولینو او مراجعینو په حضور کې پر مجرم تطبیق شوه.

## با سعی و تلاش رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا یک قضیهٔ قتل حل و فصل شد

با سعی و تلاش مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا؛ و بامیان جیگری رئیس محکمهٔ شهری، وکلای مدافع دو طرف و متنفذین قومی به تاریخ ۱٤٤٧/٤/۲۰ هـ ق یک قضیهٔ قتل حل و فصل شد.

در نشستی که به همین خاطر راه اندازی شده بود، محترم مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا، محترم شیخ اسدالله (سنان) معاون مقام ولایت کاپیسا، رئیس محکمهٔ شهری و رؤسای دواوین محکمهٔ مرافعه، رؤسای اطلاعات و فرهنگ، امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، آمر اقوام و قبایل و تعدادی دیگری از مسؤولین آن ولایت حضور داشتند.

در این نشست ورثهٔ مقتول از قصاص قاتل در مقابل یک مقدار پول دیت تنازل به صلح نمودند، دو خانواده قاتل و مقتول در حضور اراکین آن ولایت همدیگر را به آغوش کشیده آشتی نمودند و تعهد کردند که در خصوص همین موضوع در حال و در آینده بین یگدیگر کدام جنجال و دعوی نداشته باشند.

قابل یادآوریست که این قضیهٔ قتل، به تاریخ ۱ /۸/ ۱٤٤٦ هـ ق در ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا، میان دو خانواده به وقوع پیوسته بود.

## حکم جزای تعزیری بالای یک متهم در ولایت بلخ تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی البرز ولایت بلخ، روز سه‌شنبه (مؤرخ ۲۱/ ۴/ ۱۴۴۷هـ ق) بالای یک تن به اتهام فعل لواطت؛ حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهم مذکور را به ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه در حضور رئیس محکمهٔ ابتدائیه، اعضای قضائی، مدیر حقوق، ولسوال، قوماندان امنیه، نمایندگان ادارات امارتی و تعداد کثیری از مردم متدین بالای متهم تطبیق شد.

جلسه ابتداء با چند آیات از قرآن عظیم الشان آغاز شد؛ بعداً رئیس محکمهٔ ابتدائیه و مسؤولین دیگر در رابطه به تطبیق حکم تعزیر شرعی صحبت نموده بیان کرد، تطبیق احکام شریعت بالای مجرمین و متهمین سبب اصلاح آنان و پند به دیگران می‌شود.

## په لغمان ولایت کې یوه مجرم او دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د لغمان ولایت علیشنګ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې د یوې ښځې په ګډون درېیو کسانو ته له کوره د تېښتې په جرم او غلا په تور، د چهارشنبې په ورځ ۲۲/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد کسان له یو کال تر یو کال او شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۳۹- ۳۹ دُرې تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د مرافعه محکمې رئیس د قصاص، حدودو او تعزیراتو د ارزښت او فلسفې په اړه ګټوره وینا وکړه، خلکو ته یې ډاډ ورکړ چې د اسلامي امارت محاکم به د هېچا حقوق نه ضایع کوي او سل سلنه کوښښ کوي چې د خلکو ستونزو ته رسېدنه وکړي.

د غونډې په دوام د یادې ولسوالۍ ولسوال قاري عبدالقاهر (متوکل) له محاکمو څخه مننه وکړه چې خپل مسؤولیت یې په ښه ډول تر سره کړی دی.

## د هلمند ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په حکم (۱۲) ټنه نشه‌يي توکي له منځه یوړل شول

د هلمند ولایت ښاري ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې شاوخوا (۱۲) ټنه نیول شوي نشه‌يي توکي، په ۲۳/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د یوه پلاوي په شتون کې وسوځول شول.

یاد نشه‌يي توکي د تېر کال په جریان کې په بېلابېلو ولسوالیو کې له مجرمینو سره نیول شوي وو؛ چې د بېلابېلو امارتي ادارو د استازو په حضور کې له منځه یوړل شول.

په یادو نشه‌يي توکو کې (۲۴,۹۵۴) کیلو ګرامه شیشه، (۰,۴۱۹) کیلو ګرامه هیروئین، (۲۵۴,۱۹۵) کیلو ګرامه چرس، (۷۰۰) لیتره تیزاب،(۱،۴۷) کیلو ګرامه تابلیت کا، (۲۱۸۵) کیلو ګرامه تاریاک، (۳۳) کیلو کاربن، (۳۴) کیلو ګرامه کرستال او نور بېلا بېل نشه‌يي توکوي شامل وو.


## د پکتیکا ولایت وازيخوا ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه


د پکتیکا ولایت وازيخوا ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو، د علماء کرامو او قومي مشرانو په منځګړیتوب، په ۲۰/ ۴/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د قتل رامنځته شوې موضوع حل او فصل شوه.


یاده موضوع شپږ میاشتې وړاندې د وازيخوا ولسوالۍ بازار کې د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې وه؛ چې په نتیجه کې یې یو تن وژل شوی و.

دغه موضوع ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه، وروسته د مسؤولینو په ډېرو هڅو، علماء کرامو او قومي مشرانو په منځګړیتوب دواړو طرفونو سولې ته غاړه کېښوده.

دغه د قتل موضوع د جانبینو تر رضایت وروسته د یوې غونډې په ترڅ کې چې د سیمې علماء کرامو، قومي مشرانو او سپین‌ږیرو هم په کې ګډون درلود، د مقتول د وارثینو لخوا د قاتل په بخښنې سره په رسمي ډول پای ته ورسېده.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳